مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

داکتر ص . سعیدی ۲۰۲۵/۱۰/۱۰

# خوارج او مهاجر

د پاکستاني استابلشمنت د فتني او د دهشت او وحشت تمویل ۵ لسیزې زیاد روان دی او اوس یې الحمد لله ثمره خپله پاکستان د طبعي منطق او د منطقي وړاندوینې سره وینې او اخلي! داچې په افغانستان کې د افغان طالبانو همسنګران نور دلته کوم خاص او ځانګړې اړتیا نه ویني، دا کومه نوې خبر نه ده! پاکستان ددې لپاره پوره مرسته کړې چې افغانستان کې هر په پښو ولاړ حاکمیت رنګ کړي او دادی اوس نوي پړاو ته خبر رسیدلې !
که افغان طالبان خپلو کې أخته او ضعیف وای او عمراني پروژو ته وخت نه لرلای، نو پاکستان به اوسنی موقف نه درلودلای !

زما سفارش ، د حق او د عدالت سفارش داسې دی چې :د حق مبلغین د پاکستان د موجودیت او نظام مبلغینو ته ولې په ناروا توګه د خوارجو اطلاق کول بې معنا او نادرسته خبر ده! ددې کایمې درله استعماله ډډه وکړئ !
خوارج د اسلام په صدر کې د ټول ظاهراً ښه نیت سره، عمل کې یوه فتنه ګره اسلامی فرقه وه چې باور او ګمان یې کاوه، چې د اسلامی امت د آزار او أذیت تولله پېره په دیني مشرانو خلاصه کېږي او ده او له دې کبله دوی باید له منځه وېوړل شي او شهیدان شي !
د پاکستان مرتده، متجاوزه او قاتله، منحرفه آرمي مخالفین له خوارجو سره څه تړاو لري او دا بې ربطه او بې مانا اصطلاح د ټي ټي پي په هکله هسې چټیات او بې ربطه او بې محتوا اصطلاح ده چې کارول کېږي او بو شمېر یې لکه طوطیانو د جملې په سر او آخر کې کاروي او دا بې مانا چټیات تعمیموي !
تاسې چې زمونږ د مطبوعاتو او د حق او مظلوم ملت او مظلوم انسانانو د عالم أسباب اوچت غږ او حقایق بیانوئ، لطفاً د ټ ټ پي په هکله د خوارجو د اصطلاح له کارولو ډډه وکړئ !
مهاجر :
ډیورند لاین، خیالي د کاغذ پر مخبو جانبه کرښه او سرحد نه وه او نه دی !
افغان له آمو تر أباسینه پر خپله خاوره بې ځای شوای مظلوم او مجبور دی، هغه بې ځایه شوي افغان ته د مهاجر پاکستانی اصطلاح کارول خطاء او ناروا کار وه او دی!که هندي مهاجر د پارتیشن له کبله مهاجر ویل کېږي، هغه مرکې هم خبرې شته، خو اوس همدومره .

داکتر صلاح سعیدی
۲۰۲۵/۱۰/۸
۰۰۴۴۷۸۸۶۴۷۴۶۳۸



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په څېر و لولئ